مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شریف الله دوست

۲۰۱۹/۰۳/۲۲

# د شناختي معنا پوهنې له مخې

## د استاد پژواک د شعر هیوادپال اړخ



د شلمي پيړۍ په پای کښې د ژبپوهنې پر مبنه تر معنا پوهنې را وروسته دشناختي معنا پوهنې(sem cognitive
antics) د مکتب نوې خښته هم کښېښول سوه. شناختي ژبپوهنه(linguistics cognitive) د انسان د ژبنيو اړې
کو شننه،د انساني ذهن سپړنه او په ژبه د انسان تولنيزو- فزيکي تجربو ته کتنه کوي. د دې مکتب له باورنو څخه
يو دا دی چې: <u>ژبه د تفکر ډولونه او د انساني ذهن ځانګړني منعکسوي</u>. ځکه نو د ژبې مطالعه د ويونکو د ذهني
ځانګړنو او ډولونو مطالعه بلل کيږي.د شناختي معنا پوهنې اصطلاح چې دمعنايي څېړنو په برخه کښې نوې کتنه د
ه د لومړي ځل لپاره جورج لاکوف lakoff George په خپله يوه څېړنيزه مقاله کښې مطرح کړه. د دې نوي کتن
ې، څرګندونې او څېړنې له مخې د انسان ژبنی پوهه له شناخت او فکر کولو څخه بېله نه بلل کيږي. دا نظريه د چا
مسکي او فوډور د هغې نظريې پر وړاندې ودرېدله چې ويل يې: د ژبني قواعدو د جوړوښتونو پوهه د انسان د نور
و ذهني تګلارو، لکه: (فکر کولو) بېل دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

شناختي کتنه او ځیرنه(approach Cognitive)کولای سو د لانګاکر، بروګمن، فوکونیه، ترنر، تالمي او سویت سر په آثارو کي هم پیدا کړو چي د ژبي پوهه له شناخت او فکر کولو څخه بېله نه بولي او ژبه د اطلاعاتو رسوني، سمون او تنظیم ابزار ګڼي.
په شناختي ژبپوهنه (linguistic Cognitive)کښي د ژبنیو مقولو، تجربیو او مفهومي بنسټونو تحلیل ځانګړی ار زښت لري. په دې اساس شناختي معنا پوهنه د شناختي ژبپوهني په څېر یوه واحده نظریه نه ده بلکي د یو شمېر نظ ریاتو او کړنلارو ټولګه ده چي د ځینو تراوونو له مخي يې کولای شو تر یوه چتر لاندي سره را ټول کړو.
شناختي معنا پوهنه په واقعي ټرې کښي د معنایي او ارجاعي د اړیکو پلټنه کوي. هغه مفاهیم او بحثونه لکه: استعار ه، دایرة المعارفي معنا، مقوله بندي، ذهني فضاوي، مفهومي ګډون او دې ته ورته څو نور مفهومونه کولای سو د شناختي معنا پوهني پر محور را غونډ کړو.

### د معنا پوهني مهم اصول:

په شناختي معنا پوهنه کښي څو اصله ستون لري چي په ټولو یادو سوو نظریو او مفاهیمو کښي ثابت دي او د هغو ی له بنیادي اصولو څخه شمېرل کیږي. په دې برخه کښي د شناختي معنا پوهني له اصولو څخه یو هم دادی چي م فهومي جوړښت جسمي سوی او بدنمند دی پر دې اساس مفهومي جوړښتونه د انسان له تجربیو سرچینه اخلي او نها یتاً هغه څه چي د مفهومي سازمان ماهیت معنا کوي هغه تجربیه ده چي له هغه سره ملګرې ده یا په بل ډول هغه تګلاره  ده چي د تصویري طرحوارو له لارې لومړی د مفهومي جوړښت د ایجاد باعث سوی او دوهم داچي انتزا عي مفهوم ترې جوړ سوی دی، بل دا چي معنایي جوړښت مفهومي جوړښت دی. دا اصل د دې ښکارندوی دی چ ي ژبه یوازي بهرنۍ نړۍ ته اشاره نه بلکي د ویناوالو په ذهن کښي د سته مفهومونو سره هم اړیکه لري. د هغو ج ملو درک چي انتزاعي مفهومونو ته کتنه کوي،
د عیني واقعیتونو د درک له مخي د حاصل سوي تجربیو پر بنسټ بنه نیسي. د شناختي معنا پوهني دریم اصل پر د ې ټکي تکیه لري چي معنایي جوړښت ماهیت له مخي دایرة المعارفي دی. په دې معنا چي یو لغت او کلمه ( Ter m) یوازي د معنایي عناصرو د ټولګي ښکارندوی نه، بلکي د هغي پوهي د لاسته راوړلو وسیله ده چي په ځانګړ ي مفهومي قلمرو یا ځانګړو مفاهیمو پوري تړاو لري. په بل عبارت د یوې کلمي معنا کولای سو بېله دایرة المعار في پوهي چي له هغه سره تړاو لري ، درک کړو. دا پوهه د انسان په فزیکي او ټولنیزو تجربیو کښي ژوره ریښه لري. استاد عبدالرحمن پژواک(۱۲۹۸- ۱۳۷۴ ش) هم لسیزي خپلو هیوادنیو تجربیو ته په خپل شعر کښي په واقعي ، شناختي او معنایي لحاظ ځای ور کړی دی. استاد پژواک په افغاني ټولنه کښي د دې تجربیو ښیلګه د ولسونو په در د کښي ښیي:

هـم هـغـسي چي خندا کي هنر نشته
پــه ژړا کـــي هــم لـــه سره اثـر نشته

دا چي خاوري شوم د میني لار کي ښه دی
خو د چا زما په خاوري ګذر نشته

زه پژواک یم په پیچومکي لوی شوی
دا چي چوپ یم دلته غر او کمر نشته
(قیومي، ۹۰،۹۱ مخونه)

فیلمور په ۱۹۷۰م او ۱۹۸۰م لسیزو کښي د قالبي معنا پوهني د نظریې او لانګاکر د حوزوي نظریې په طرحه کو لو سره د ژبې د دایرة المعارفي معنا ارزښت په شناختي معنا پوهنه کښي څرګند کړ. د شناختي معنا پوهني بل اص ل دادی چي ژبه معنا نه ټاکي، بلکي لغتونه او نور ژبني واحدونه دي چي د معنا جوړوني له انګیزو څخه شمېرل کیږي. د شناختي معنا پوهني د اصولو څخه د مجاز او استعارې څېړنه بله نوې کتنه ده. استعاره د دوو معنایي حو زو د اړیکو پېژندنه ده چي پر بنسټ يې یوه معنایي حوزه د بلي معنایي حوزې له مخي څرګندیږي. د بېلګي په ت وګه د زمان معنایي حوزه د مکان د معنایي حوزې پر بنسټ او حرکت بڼه غوره کوي. په دې ترتیب د (زه پژواک یم په پیچومکي لوی شوی) استعارې عبارت د همدې اړیکي پر بنسټ د درک وړ دی او مجاز د استعارې پر خلا ف یوازې په یوه معنایي حوزه کښي پلټل کیږي.کله چي وایو :



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

(تېره شپه مي د پژواک آثار ولوستل)، دا مطلب د لوستونکي او شاعر تر منځ په يوه شناختي معنايي حوزه  کښې د درک وړ بلل کيږي. د پژواک د شعر له هرې کلمې څخه زموږ د اطلاعاتو – معلوماتو يوه برخه دې ته ورګرځي او بنيي چي د پژواک په کلام کې ياده کلمه کومو مقولو ته کتنه کوي؟
د مقوله بندی بنسټ يې کوم دی؟ يعني پر کوم اساس يو ارزښت په يوه مقوله کښې ځای پر ځای کوو؟ سمدستي ځوا ب دادی چي ورته او مشابه ارزښتونه بايد په يوه مقوله کښې ځای پر ځای کړو.
لکه څنګه چي وويل سول په شناختي برخي کښې ژبپوهان په دې باور دي چي د ژبې بنيادي څېړنه بايد معنايي وي ځکه مفاهيم هم پر  شناخت تکيه لري. د دې مکتب د لاروپانو د نظريې پر بنسټ د ژبې شناختي نظريه د هغو نخ بنو يو نظام دی چي په هر يوه کښې معنايي سيمبول له آوايي – ږغيز سيمبول سره تړلی دی. ځکه نو دې نخښو ک بنې معنايي سيمبولونه هماغه ذهني جوړښتونه دي.  همدا ډول دوی په دې باور دي چي معاني پر ملموسو، فضايي ا و هندسي جوړښتونو په تکيې سره بنه غوره کوي. په دې اډانه(چوکاټ) کې تصويري طرحواري غوره سوی مفهو م دی چي د شناختي معنا پوهانو په څېړنو کې د ځانګړي ارزښت لرونکی دی.

## تصويري طرحواري(schemas Image)

د جنسون په باور تصويري طرحواري دا دي چي زموږ د ادراکي تعاملونو له متحرک( dynamic )او تکرار سو و بېلګو هغه چي زموږ شناختي تجربيي له بهرنی نړی څخه زموږ په ذهن کې جوړښتونه رامنځته کوي او وروسته يې په خپله (شعري – نثري يا هم ږغيزه) ژبه تر نورو پوري رسوو. دا مفهومي جوړښتونه هماغه تصويري طر حواري دي. دا ذهني بېلګې او نمونې په مرتب ډول جوړيږي، تر څو وکولای سو له دې لاري بېلابېلي تجربيي در ک کړو.  طرحواري د استعاري په درک کښې د مبدا او مقصد اړيکي ښيي. تصويري طرحواري بيا انتزاعي(ذهن ي) جوړښتونه دي چي د هغو له مخې هغه څه چي شناختي معنا پوهنه مطرح کوي د معنا درک رامنځته کوي او د بهرنی نړی د پيچلو شناختي حوزو سره لکه ژبه زموږ د تجربيوي اړيکو شرايط برابروي. د جانسون په باور ت صويري طرحې په دوو بنو مفاهيمو ته يوالی(solidarity )بخښي:
**لومړی:** حسي تجربيي پر يوه لاس او يوې توټې په جوړښت کښې دننه کوي. د بېلګې په ډول له بدن څخه زموږ تج ربيې په کُليت ، اجزاوو او قالب کښې د دې سبب کيږي تر څو کُلي – شناختي بېلګه د جز په توګه په نظامندی کې په بل مفهوم لکه ژوند او د هغه اجزاوي په کار واچوو، بولګه:

چي په زړه مي د ژوندون نوی بهار شي
لکه ګل تر و تازه د زړه پرهار شي

دا وطن د کومي پېغلي تور اوربل دی
چي باد نه وي لا وهلی تارومار شي

ګنهګار يم خو ګناه مي آزادي ده
څوک به دې خوږې ګناه نه توبه ګارشي

چي د دې ګناه لايق د پښېماني وي
تولعنت دي پر دا هسې ګنهګارشي
(پژواک،بانوی بلخ،۸۶مخ)

پورتنی بېلګه کي زړه همدا حکم لري چي کله له خوښيه غوړيږي او کله له غمونو او دردونو ژړيږي، پر زړه راغ لي يا راتلونکي حالات يې اجزاوي جوړوي.
**دوهم:** تصويري طرحواري، داستعارو د بنې په غوره کولو سره د تګلاره د فزيکي تجربيو له چوکاټه ذهني او انتز اعي حوزو ته دننه کيږي. غوره تصويري طرحواري په دې ډول دي: حجمي، حرکتي، قدرتي(ځواکمني)، منځلار ي، ربطي(اړي)، څرخنده، مرکزي، حاشيه وي(لمنليکي)، ليري او نږدې، جزئ او کُلي، تماسي، سطحي، ادغامي، ډکي – تشي، غبرګوني، جذبي اړيکې، همسازي، مېنلونکي او بېلېدونکي.
له پورتنيو څخه لومړنی درې طرحواري(حجمي، حرکتي او قدرتي) يې بنسټيزي طرحواری دي. لکه مخکي چي م و وويل طرحواري زموږ د چارچاپېره نړی په  درک کښې اغېرمن توکي او ابزار بلل کيږي. د طرحواري د مفهو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

م څخه په ګټه اخیستنې،د ورځنیو پېښو د درک لپاره فکري هڅو ته اړتیا نسته، انسانان د دې توان لري چې د طرح وارو په مرسته نوي مفاهیم درک کړي.

### د استاد پژواک په شعر کښې د تصویري طرحوارو مفهوم:

استاد پژواک څو اړخیز شاعر دی چې په خپلو آثارو او اشعارو کښې یې شاوخوا له ژوند سره تړلې ډېرو شیانو ی ادونه کړې لکه: عشق او مینه، دین، وطن، عرفان، ټولنه، اخلاق، سیاست او... خو دوطن مینې او مېنې یې د شعر په وجودو کښې داسې ریښې ځغلولې چې نور اړخونه یې تر اغېزې او سیورې لاندې راوستلې دي. بې ځایه به نه وي نوموړی د نویو حماسي او هېواد پالو شاعرانو لاربنود استاد وبولو. استاد پژواک خپله بشري عاطفه، اورنی ه یوادنی مینه نه یوازې په شعرونو بلکې په نثرونو کښې هم د مېنې اوج ته رسولې ده. خو په دې نوې او تجربیوي څېړنه کښې د استاد پژواک هیوادنی مینه او له هغه سره تړلې مفاهیم د تصویري طرحو له نظره تر پلټنې او شننې لاندې نیول سوې دي تر څو وکولای سو د شاعرانو شعر ته له یوې نوې دربچې ورننوځو.

### ۱.حجمي طرحواره(schema containment)

هغه طرحواره چې انسان( دلته شاعر) خپل کور ، وطن، غرونه، تخت، سمڅې، خپل بدن او نورو حجمي ځایونو د ظرف په ډول په نظر کښې نیسي او په پایله کښې له همدې ډول فزیکي حجمونو څخه انتزاعي طرحوارې په خپل ذهن کښې راځرګندوي او د شعر په بڼه یې په یوه تار او هار کې پیيي. بولګه:

خلک وایي چې راغلی بیا اختر دی
دا چې چا باندې اختر دی خدای خبر دی

مبارک دې شه که چا باندې اختر وي
په افغان باندې اختر نه دی محشر دی

د استاد پژواک په پورتني تصویر کښې یې فکر په وطن کښې په جوړ ښکېلاکي محشر کښې په ځینځیرونو تړلی د ی. فکر د داسې حجم لرونکی دی چې کولای سو هغه ته دننه شو یعني هغه انتزاعي مفاهیم چې په بهرنۍ نړۍ کښ ي بیله حجمه او بُعده دي، پر دې ډول مقولو راغونډیږي. پژواک خورا زیات هېواد پالونکي تصویرونه په خپلو شع رونو کښې راوړي دي. هغه څه چې په زړه کښې راټوکیږي، پر سترګو ځرګندیږي او پر ژبه ویل کیږي او هغه بیا حجمي ظرف بولو چې په ځان کې د مېنې د واقع کېدو قابلیت لري. استاد دا تعبیر د استعاري بیان له مخې (د ز ړه درد) بللی دی. د دې تعبیر له مخې لوستونکي او اورېدونکي په اسانۍ سره دا درک کولای سي چې د وطن د م ینې درد او محشر د استاد زړه څومره ځورولی او درمن کړی دی! پژواک دا طرحواره د یوه تصویري سېمبول په قالب کښې بنیې چې په پورتنې عبارت کښې حجمي طرحواره له وطن سره د خواخوږۍ لپاره بیان سوې ده. په یاو سوو مواردو کښې د (زړه درد، زړسوی) د یوه حجم لرونکي جسم په توګه د لمس وړ تعبیر سوې دي. یاهم د و طن د مېنې سره د تړاو لپاره پورتنیو مواردو ته په کتو استاد پژواک توانېدلی دی چې په دې ډول طرحوارو(چې د انسانانو تر منځ ګډه ذهني پوهه شمېرل کیږي) د خپل خوښې وړ انتزاعي مفاهیم په اسانۍ سره درک کړي.

### ۲.حرکتي طرحواره(schema path)

د انسان او یا هم نورو ډېرو شیانو حرکت،د انسان په واک کې یو نه یو ډول تجربیه ورکوي چې په پایله کې له دې ډول حرکتونو څخه په ذهن کې انتزاعي طرحوارې راټوکیږي، سپړل کیږي - تورل کیږي او د هغه څه لپاره چې د حرکت توان نه لري یو ډول ځانګړتیا په پام کې نیول کیږي چې شاعر ورته استعاري ژبه ورکوي پر خبرو، کله هم پر غلبلو راولي لکه استاد چې خاموشو ټولنیزو دردونو ته ژبغړانده ګویا ژبه ورکړې ده. هر حرکت پیل او پای لري کېدای سي په دې منځ کې (د پیل او پای) تر منځ واټن خورا لیرې ځای ولري کوم چې له پیله تر پایه د حرکت له ټکې د لارې د بېلابېلو ټکو(نقطو) څخه تر تېرېدو د مستلزم او زماني واټن د تېرېدو ضامن بلل کیږي. بولګه: بریالیتوب ته د رسېدو لپاره اړ یو چې هڅې و کړو ځکه بریالیتوب ځانته ټاکلې لاره لري چې باید پر هغه باندې ک ه ستونزمنه هم وې یون او تلو وسي . په بل ډول هغه حرکتي طرحوارې چې دروني لارتلنه پکښې کیږي، هغه کې یو ډول حالتي تغییر مطرح دی نه عیني او فزیکي حرکت؛ لکه د انسان وده له کوچنیوالي تر لویوالي پورې د فزی کي تر ځنګ ضمني او دورني، رواني او وړتیایي هم ده. بولګه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د پژواک زړه د وطن په غره ولاړ دی
که څه هم ولاړ په څوړند چاود کمر دی

د میني اړیکه د یون او حرکت په څېر په پام کښي نیول سوی ده، دې لاره کي زړه له مین څخه بیل سوی ، په حر
کت یې پیل کړی او په پایله کي میني ته رسېدلی دی. حتمي ده چي د میني او مین تر منځ یوه لاره سته چي په یون
سره(که څه هم له کړاونو ډکه وي) کولای سي تر میني پوري ورسېږي. زړه تل د میني او مین تر منځ په خوځښت
کي وي. په دې ترتیب: مین د مسافر په توګه ، مینه یې مقصد او منزل،
، زړه یې د سفر وسیله، چي دلته نو مینه کله د سفر د بار او کله هم د مسافر په توګه پر یاده لاره یون او تلون کو
ي او د دې ډول حرکت په ټکي پای ته رسیږي. په دې انتزاعي قالب کي د انتزاعي مفاهیمو درک،
د دې ډول طرحوارو په قالب کي په پام وړ ډول عروج ته رسیږي.

## ۳.قدرتي طرحواره(schema force)

دا د بندښونو او څواک پر وړاندي د انسان د تجریبو زېږنده ده چي د خپل شاوخوا چاپېریال څخه یې تر لاسه کوي .
په پایله کي انتزاعي طرحواري له دې ډول فزیکي نښتو څخه په ذهن کي پیداکیږي. د دې ځانګړني نسبت هغو ښ
کارندو ته کیږي کوم چي دا ځانګړني نه لري. لکه:
(امکان لري یوه ازموینه د ژوند تګلوری بدل کړي.) هو؛ ازموینه هغه بند دی چي تل د ژوند پر وړاندي ولاړه وي
او انسان ورسره بریالیتوب ته د رسېدو په پار ډغري وهي ځکه نو وخت حالات بدلوي او حالات انسان! همداسي
ژوند د ازمایښتونو ټولګه ده، استاد پژواک دې ازمایښتونو کي بریالی دی، داسي غښتلي پیغامونه یې له فکره - ذهن
ه ټوکولي او ټکوهلي چي هره کرښه یې افغان ځوان په هیجان راولي:

د ښېتن فضلونه ډېر دي خو دا لوی فضل د خدای دی
چي د خلکو خدمتګار یم او بادار نه یمه زه

وطندار د هر افغان یم چي د روس سره جنګیږي
د پردو د غلامانو وطندار نه یمه زه

د داسي موانعو او بندښونو په وړاندي د انسان په غبرګون سره د قدرت د طحوارو بېلابېل ډولونه پېژندل کیږي او
یاهم د موانعو سره په ټکر کي یې په وړاندي درېږي. دپردو د غلامانو نه وطندار کېدل هېوادپال ټکر دی په دې مع
نا چي دا ټکر پر ذاتي غوښتنو نه دی ولاړ بلکي د وطن د ګټو د خوندیتوب لپاره دی، دا په خپله د قدرتي طرحوار
ي یو ډول ښیي. د خلکو خدمتګاري او له باداری څخه کرکه هم یو ډول قدرتي طرحواره ده چي خپل زور او ځوا
ک د ولس په چوپړ کښي ښیي نه پر هغو په باداری کولو کښي. د میني په اړیکه کي هغه څه چي تر بل هرڅه مخ
کي ذهن ته رسیږي د هیوادنی میني او مېني په لاره کي سختي، ستونزي او پېچومي دي او دا ډول تجریبي د استاد
پژواک په شعر کي لوړ مقام لري.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ